مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۱۹/۰۸/۰۱

# روسیه او برتانیه په افغانستان کي

د افغانستان تاریخ، له سره ترپایه، د غمیزو یو نه شلېدونکی لاړ او ناپایه داستان دی. د خپل تاریخ په وروستیو پېړیو کي معمولا د قوي ګاونډیانو او یا لویو طاقتونو ترمنځ د رقابتونو، دښمنیو او جګړو له امله وران سوی او تباه سوی دی. هر ځل یې یرغلګر دښمن ته، چي د یرغل کولو لپاره یې هیڅ ډول عادلانه پلمه نه ده درلودلې، شرمونکي شکستونه ورکړي دي؛ خو د دښمن له ماتولو څخه وروسته یې خپل ځانته هم کټه نه بلکه تاوان رسولی دی. په نولسمه پېړی کي، دوه ځله د برتانوي هند په خبر یوه قوي هیواد، له دې ویري چي هسې نه روسیه له افغانستان یا ایران سره لاس یو نه کړي او یا پر افغانستان باندي یرغل ونه کړي او د افغانستان له لاري هند ته خطر پېښ نه کړي، پر افغانستان باندي یرغل کړی او بیرته یې ماته خوړلې ده. پر افغانستان باندي د روسانو د یرغل او هند ته د لاري پیدا کولو د احتمال په باب په لس هاوو کتابونه او په سل ګونو مضامین لیکل سوي دي. چا د روسیي د دغه راز یرغل احتمال ریښتونی بللی او چا یې احتمال بیخي رد کړی دی. په دې لړ کي یوه برتانوي ژورنالیسټ، مورخ او لیکوال الیکسیس کراوسي Krausse Alexis د نولسمي پېړی د اتیایمو کلونو په پای کي، « روسیه په اسیا کي » په نوم په دیارلسو فصلونو کي، یو لوی کتاب لیکلی او دا موضوع یې په هراړخیزه توګه څېړلې ده. ما د دې کتاب یوولسم فصل، چي زیاتره له افغانستان سره اړه لري، د ترجمې لپاره انتخاب کړی دی.

## روسیه په اسیا کي

## یوولسم فصل

پر هند باندي د روسیي د یرغل احتمال ته، د دې پېړی په سر کي د برتانیي امپراطوري هغه وخت متوجه سوه چي د روسیي د امپراطور پال او ناپولیون ترمنځ د تړون او پر هند باندي د حملې د کولو د نقشې په باب آوازې انګلستان ته ورسېدې. پر دې موضوع باندي په بېلو بېلو وختونو کي بحثونه وسول او هر ګورنرجنرال او ویسرا، په خپل وار، داسي احتیاطي اقدامات کړي دي چي د روسیي د دې یرغل احتمالات یې کم کړي دي.
د افغانستان او انګلیس د لومړي جنګ پېښو د برتانیي د حکومت توجه د دې خبري اهمیت ته واړوله چي باید د کابل له واکمن سره ښه تفاهم ولري او په همدغه وخت کي په مرکزي اسیا کي د روسیي فعالیتونو زموږ د هیواد د سیاستمدارانو اندېښني زیاتي کړي دي. په مرکزي اسیا کي د روسیي د جنرال پیروفسکي تباه کونکو عملیاتو د برتانیي د سیاستمدارانو سترګي خلاصي کړې او کله چي د روسیي استازي ویتکوویچ امیر دوست محمدخان ته د ملاتړ او وسلو وعدې ورکړې نو د برتانیي حکومت خپلو خلکو ته په پټه خوله پاته کېدلو قناعت نه سو ورکولای. انګلستان هم کرار کرار خپله دفاعي پالیسي پر دوو طرفو یا پر دوو طرزونو باندي جوړه کړه. لومړی پالیسي دا وه چي روسان باید پرې نه ښودل سي چي تر خپلو حاضرو پولو راتېرسي. په دوهم ګام کي باید د هند او له هند څخه هاخواته داسي قوي سرحد او مانع منځته راسي چي پر هند باندي د روسیي د پرمختګ مخه ونیولای سي. په دې توګه برتانیې، په غیرشعوري ډول، د حایلي سیمي یا بفرسټېټ د جوړولو پالیسي غوره کړه.
او دا پرنسیپ په ۱۸۴۴ کال کي د روسیي او برتانیي تر منځ په موافقتنامه کي رسماً ومنل سو. په هغه موافقتنامه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کي دا ومنل سوه چي د مرکزي اسيا خانات دي د دواړو امپراطوريو ترمنځ د بېطرفي علاقي په حيث وپېژندل سي.
د برتانيي حکومت له روسيي سره تر دغه تفاهم وروسته د هند د سرحداتو د تقويه کولو لپاره په لازمو اقداماتو لاس پوري کړ او لارډ پالمرستون پخپله د دې موضوع په اړه د بهترينومتخصصينو نظريات را غونډ کړل. په هغو کسانو کي چي ده سلامشوره ورسره وکړه لارډ هارډينګ او د ويلينګټن ډوک شامل ول؛ او دواړو پر هند باندي د روسيي د يرغل احتمال دونه ليري باله چي ويل يې چنداني په غور کولو نه ارزي. لارډ هارډينګ د هند د سرحد په باب د توضيحاتو ورکولو څخه وروسته وليکل:
« د روسيي د مقاصدو په برخه کي زه په يقين سره ويلای سم چي هغوی به پر هند باندي هيڅ وخت حمله ونه کړي. د ايران او افغانستان قواوي به، چي د روسيي له قواوو سره به ګډ عمليات کوي، هغسي توپخاني او پوځي وسايلو ته ضرورت ولري لکه موږ چي يې دغه کړی په هند کي لرو. په يوه غرنی او ستونزمنه مځکه او هيواد کي دغه راز عصري وسايل نقلول ډېري زياتي ستونزي منځته راوړي. د افغانستان جنګ د روسيي د يرغل د احتمال سوال حل کړی دی. افغانستان منابع نه لري او د يوه لوی يرغلګر پوځ د حمايې او مړولو لپاره هيڅ ډول وسايل نه لري او حتی که دغه راز يو پوځ تر اباسين پوري ورسيږي هم موږ، په هر وخت کي، دونه منابع او وسايل لرو چي پر هغه باندي غلبه کولای سو. په دې صورت کي نو تاسي د انديښني کولو لپاره هيڅ دليل نه لری. محترم لارډ پالمرستون! پر هند باندي د روسيي د يرغل احتمال فقط يو سياسي کابوس (بدخوب) دی. »
د ويلينګټن ډوک دغه نظر په بشپړه توګه تاييد کړ. کله چي هغه ته د لارډ هارډينګ مکتوب وروښودل سو نو هغه د ۱۸۴۷ کال د جون پر دريمه وليکل:
« د سرحد د وضع د بيان په باره کي د لارډ هارډينګ خبري بالکل پرځای دی. تاسي پر هغه باندي اعتماد کولای سی او د روسيي له يرغل څخه هيڅ ډول وېره په کار نه ده. دا چي موږ سيند په لاس کي لرو دا پخپله د هند لپاره يو مصوونيت دی.»
کله چي لارډ پالمرستون ته دا نظريات ورسېدل نو هغه د خپلي معمولي هوښياري په ترازو کي وتلل. ده د هند په باب لارډ جان رسل Lord John Russell ته وليکل:
دا دواړه جنرالان ډېر لوی پوځي صلاحيتونه لري... داسي ښکاري چي دواړه په دې خبري کي توافق سره لري چي روسان هند نه سي فتح کولای او په دې نظر کي دوړاه ښه پر حق دي. خو زه فکر نه کوم چي هارډينګ به داسي ښودلي وي چي روسان ښايي موږ ته په هند کي زياتي ستونزي پيښي نه کړي او موږ به د زياتو پيسو لګولو ته مجبور نه کړي... پر هغه سيمه باندي د روسانو د پوځونو پرمختګ، لکه هارډينګ چي وايي، په هغه اندازه غيرممکن دی. اوس بايد ايرانيانو ته د روسانو د پيش خېمي په سترګه وکتل سي، او چي کله يې زړه وغواړي له هغه څخه به کار اخلي. دوی به پر ايران باندي يا د ډېر زور اچولو په وسيله خپل نظر تحميل کړي او يا به د ايران شاه ته له افغانستان څخه د ګټو ترلاسه کولو هيله وروپيدا کړي او په دغه رشوت به يې رضا کړي. د روسيي يوه قوه، چي افغانستان به يې اشغال کړی وي، ښايي ونه کړای سي پر کلکتې باندي يرغل وکړي. مګر دا کولای سي چي له افغانستان څخه د يوه اشغال کړي هيواد په حيث په راتلونکي کي کار واخلي...
او څه چي هارډينګ زموږ د سرحد د امنيت په باب وايي هغه د ده خپل نظر دی مګر د برما د خلکو، د نيپاليانو او، په هند کي، زموږ پر شاوخوا باندي د هغو سيمو خطر هم بايد په نظر کي ونيول سي چي لا اوس هم زموږ په اداره کي شاملي نه دي. د دغه راز ستونزو د مخنيوي لپاره بايد چي سرحد تقويه سي... نو دا بايد هر چا ته ځرګنده وي چي پر موږ باندي ناڅاپي حمله اسانه کار نه دی. دا بايد هر چاته معلومه وي چي زموږ غښتلي دريځ ته نه ځوک په چټکو حرکاتو تاوان رسولای سي او نه ځوک زموږ خاوره او ملکيت په زور راڅخه اخيستلای سي.»
په دې توګه نو له ۱۸۴۷ کال څخه وروسته دا ځرګنده سوه چي افغانستان به په راتلونکي کي، په ختيځ کي د قدرت او سلطي ترلاسه کولو لپاره، د انګلستان او روسيي د مبارزي ميدان وي.
د افغانستان هيواد له يوه سلسله غرونو څخه جوړ دی چي په منځ کي يې شني وادي ګاني دي او په پای کي په شمال او شمال ختيځ کي حاصل خېزو شنو ځکمو ته خلاصيږي. خلک يې يو شمېر سخت او جنګي قبايل دي، چي هم په خپلو کي په جنګونو لګيا وي او هم له کنترول سره سخت مقاومت کوي. هر وخت د خپل واکمن امير په مقابل کي ښورښونه کوي. دوی دونه زړه ور دي او دونه زغم او توان لري چي په بل ځای کي نه ليده کيږي او دغه علت دی چي هر وخت جنګ ته تيا ر وي. کله چي د افغانستان لپاره د حايلي سيمي پاليسي غوره کېدله، نو د برتانيي حکومت د افغانستان د حکومت بې ثباتي په نظر کي نه وه نيولي چي د ضرورت په وخت کي به مداخلي ته مجبوريږي، څو د هغه هيواد تماميت وساتل سي. د برتانيي حکومت دغه راز د افغانستان د خلکو خاص طبيعت او خصلت هم په نظر کي نه وو نيولی او نه يې د هغوی هغه خاص اسيايي خصلت په نظرکي نيولی وو چي دوی په پېژندل کيږي. افغانان سره له هغه چي جنګيان دي، د دې ترځنګ ډېر په زړه سخت خلک دي چي پر دوستي يې حساب نه سي کېدلای او هر ګړی تغيير کوي. ځکه نو هم مشکوک متحدين او هم خطرناک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دښمنان دي. د افغانستان واکمنان هر وخت د هغه چا په لاس کي دي چي ډېر امتيازات ورکړي او د اميردوست محمدخان څخه تر اميرعبدالرحمن خان پوري يې هم له برتانيي او هم له روسيي سره مذاکرات کړي دي. له دواړو څخه يې پيسي اخيستي دي او يوه ته هم وفادار نه دي پاته سوي. له دغه ډول خلکو سره ګوزاره کول ډېر لوی اداري مهارت ته ضرورت لري. ددغو خلکو د اتحاد د تضمينولو لپاره، هر قدرت مجبور دی چي د هغوی د امنيت د ساتلو په برخه کي خپل زور وښيي او کله چي څوک له امير سره مرستي کوي نو هغه مرستي بايد دايمي وي او له امير سره غلطي ونه سي.

داسي نه ښکاري چي د برتانيي حکومت دي، له افغانستان سره د دوستی او موافقو کولو په ترڅ کي، دغه ټکي په نظر کي نيولي وي او دغه علت دی چي نتيجه يې منفي راوتلي ده. له افغانستان سره د برتانيي د اړيکو ټوله سابقه له دغه راز غلطيو او اشتباهاتو څخه جوړه ده. غلطي سوي ده او بيا د دوستی لاس ور اوږد سوی دی. او کله چي د افغانستان امير فيصله کړي ده چي له برتانيي سره به اتحاد او ملګرتوب کوي او د روسانو د يرغل په مقابل کي يې د امنيت تضمين غوښتي دی نو، له يوه ځل پرته ، هيڅ وخت ژمنه نه ده ورسره سوې.

له افغانستان سره لومړی جنګ، له لويه سره، يوه مرګانی غلطي وه. دې جنګ زموږ څخه افغانان بېګانه کړل او د هغوی په نظر کي يې ريشخند کړو. موږ دوست محمد له قدرته را وپرزاوه، يو ډېر لوی پوخ مو افغانستان ته واستاوه، ډېر زيات لګښتونه مو وکړل؛ بالاخره مجبور سولو چي هغه چاته قدرت وسپارو چي موږ پرزولی وو. بيا به نو د ملګرتوب هغه پيمان چي د هغه واکمن او لارډ ډالهوزي Lord Dalhousie تر منځ لاسليک سوی ووڅه ارزښت درلودلی وي؟ حتی کله چي موږ د امير شېرعلي ، چي دوست محمد د خپل وليعهد په حيث ټاکلی وو، ملاتړ وکړ لا افغانانو هغه په خپلو چارو کي د پرديو مداخله وبلله.

د افغانستان اوږد داخلي جنګ، چي د دوست محمد له مړيني څخه وروسته پيل سو، زياتره د انګليسيانو د هغو مرستو په اثر پای ته ورسېدی چي شېرعلی ته يې ورکړې او هغه د برتانيي په پيسو او وسلو خپلو هغو ورونو ته ماته ورکړه چي د ده د پاچا کېدلو حق ته يې غاړه نه اېښودله. کله چي دی بالاخره بريالی سو او قدرت ته ورسېدی نو د ګورنرجنرال لارډ مايو سره يې د کتني غوښتنه وکړه او هغه هم د ده غوښتنه ومنله او د ۱۸۷۰ کال په مارچ کي يې په امباله کي ورسره وليدل.

لارډ مايو تازه هندوستان ته راغلی وو. هغه ښاغلي ډيزرايلي Mr. Disraeli څکه د وايسرا د مقام لپاره ټاکلی وو چي په لياقت او هوښياري کي يې خاص شهرت درلود او د بشريت په باب يې استثنايي مطالعه درلوده. که چيري لارډ مايو کافي صلاحيت درلودلای نو د امبالي د کنفرانس په بريالیتوب کي به هيڅ شک نه وای. له بده مرغه چي د لارډ مايو د ټاکل کېدلو او له اميرشېرعلي سره د هغه د خبرو ترمنځ په فاصله کي په انګلستان کي حکومت تغيير وکړ. ښاغلی ګلېډستون Mr. Gladstone قدرت ته رسېدلی وو او هغه لارډ مايو ته ټول ورکړل سوي هدايتونه فسخ کړل او هغه ته يې په خاصه توګه خبرداری ورکړ چي داسي کار ونه کړي چي د روسانو د خواشينی سبب وګرځي. په دې توګه نو وايسرا، چي په خاصه توګه د روسانو د يرغل د مخنيوي لپاره ټاکل سوی وو، يوه سو چي بايد د يوې نوي پاليسي چي هغه Inactivity Masterly يا هوښياره بېحرکتي وه، پيروي وکړي. د دې پاليسی مفهوم دا وو چي د روسانو لاس د اسيا په دسيسو کي آزاد پرېږدي.

شېرعلي، چي په دې پوهېدی چي د انګلستان د قدرت درناوی به کوي، په دې هيله امبالي ته راغلی وو چي له انګلستان څخه به د خپل قوي شمالي ګاونډي د هر يرغل په مقابل کي ملاتړ ترلاسه کړم. د سمرقند سقوط هغه ډېر وېرولی وو او د يوه وابسته واکمن په حيث يې د امنيت غوښتنه وکړه او دا غوښتنه، له هغه قدرت څخه چي دی ورپوري تړلی وو، د ده حق وو. ده دغه راز حق درلود چي د برتانوي هند له حکومت څخه وغواړي چي د وليعهد په حيث د ده د زوی منظوري ورکړي.

دی کابل ته ماءيوس او زړه ماتی ستون سو. لارډ مايو د خپل حکومت د اوامرو په اطاعت کولو کي ډېر ټينګ وو. هغه خپل هيواد ته د خدمت په لاره کي له خپل عقل څخه څکه کار وانه خيست چي صلاحيت يې نه درلود. لارډ مايو د امير غوښتني رد کړي او څه چي امير ترلاسه کړل هغه يوه سلسله ګونګي ژمني وې چي په داسي عمومي عباراتو افاده سوي وې چي برتانيي ته يې هيڅ ډول مسوليت نه وردغاړي کاوه. ده ته وويل سوه چي د ضرورت په وخت کي به کله ناکله مرستي ورسره وسي. د ده پر غوښتنو باندي به هر وخت په ډېر درناوي غور کيږي. کله چي ده له ويسرا څخه وغوښتل چي د هغو کوښښونو په مقابل کي د ملاتړ ژمنه ورسره وکړي چي له قدرت څخه د ده د پرزولو لپاره کيږي نو وايسرا ورته وويل چي د برتانيي حکومت به دغه راز کوښښ ته سخت په کرکه وګوري. او کله چي ده له وايسرا څخه وغوښتل چي د ده د زوی وليعهدي تضمين کړي نو هغه په ډېر مودبانه شکل جواب ورکړ چي له بده مرغه هغه د دغه راز تضمين ورکولو واک نه لري.

شېرعلي امبالي ته د دې لپاره راغلی وو چي له برتانيي سره به دفاعي او تعرضی تړون لاسليک کوي. دی کابل ته خواشينی ستون سو، پر خپل تخت باندي بې تضمينه او د خپل هدف په ترلاسه کولو کي ناکام. ده په خپل لنډ سفر کي هيڅ شی ترلاسه نه کړل نو څکه يې احساسات سخت زخمي سوي وه او ويل کيږي چي ده خپلو ملګرو ته ويلي وه چي انګليسيان يوازي د خپلو ځانونو په غم کي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دوه کاله وروسته روسانو خیوا ونیوله او د ده اندېښني یې زیاتي کړې. ده د هغه وخت پېش بیني کوله چي د ده هیواد به هم د مرکزي اسیا د هیوادونو څخه وروسته د روسانو لاسته ولوېږي. ده هغه بې اعتنایی چي په امباله کي ورسره وسوه هېره کړه او بو ځل بیا یې له انګلیسیانو څخه د مرستي غوښتنه وکړه او هغوی ته یې وویل چي حالات وار په وار خطرناکه کېږي او غوښتنه یې وکړه چي دې ته باید لږترلږه دونه وویل سي چي که یې پر هیواد باندي حمله وسي نو د برتانیې پر مرستو باندي څونه حساب کولای سي.

د لارډ مایو د حکومت دوره په ناڅاپي توګه ختمه سوه. د هغه پر ځای باندي لارډ نارت بروک Lord Northbrook وټاکل سو چي نه یې د لارډ مایو په څېر پوهه، نه ډیپلوماټیک لیاقت او نه د هغه په څېر د خواخوږی احساس درلود. هغه یو ساده اداري ماشین وو او د امیر پیغام یې لندن ته واستاوه او د هدایت غوښتنه یې وکړه. هدایتونه راورسېدل او له هغو سره سم عمل وسو. وایسرا ته په لېرل سوي رسمي ټلګرام کي راغلي وه:

کابینه فکر کوي چي ته باید امیر ته اطلاع ورکړي چي موږ د ده په څېر د خطر احساس نه کوو او فکر کوو چي د خطر لپاره هیڅ دلیل نسته. مګر ته باید امیر ته اطمینان ورکړې چي موږ به د افغانستان په ګټه خپلي پالیسی ته دوام ورکړو، په دې شرط چي هغه په خارجي چارو کي ستا له مشوری سره سم عمل وکړي.

کله چي لارډ نارت بروک دا پیغام امیر شېر علي ته واستاوه نو هغه هک پک سو. هغه داسي حقایقو ته اشاره کړې وه چي ده ته ټول معلوم وه او د ده پاچهی یې له خطر سره مخامخ کړې وه. او په جواب کي ده ته ویل سوي وه چي هیڅ خطر نسته! شېرعلي، د دې مایوسیت او خواشینی سره سره هم، له تلاش څخه لاس وانه خیست. ده یو ځل بیا هم کوښښ وکړ چي ګوندي د هند د حکومت خواخوږي جلب کړي او سیدنورمحمدشاه یې، چي د ده تر ټولو اعتباري سلاکار وو، سیملې ته واستاوه چي له وایسرا سره خبري وکړي او په مرکزي اسیا کي د روسانو د عملیاتو په باب حقایق یې مخي ته کښېږدي. امیر یقین درلود چي هرکله لارډ نارت بروک ته دا حقایق ورسیږی نو هغه به نه یوازي د مرکزي اسیا د مسلې په برخه کي خپله عقیده بدله کړي بلکه سمدستي به امیر ته هغه تضمینونه ورکړي چي ده یې له ډېري مودې راهیسي غوښتنه کوله. پرنور محمدشاه باندي تاءکید سوی وو چي پر دوو مهمو ټکو به ټینګارکوي: د روسیې په مقابل کي د ملاتړ ترلاسه کول او د ولیعهد په حیث د امیر د زوی پېژندل.

نورمحمدشاه د ۱۸۷۴ کال د جولای پر دوولسمه سیملې ته ورسېدی او له وایسرا سره د کتلو وخت ورکړه سو او هغه ته یې وویل چي امیر د خطر احساس کوي او په عاجله توګه د مرستي غوښتنه کوي. وایسرا غوږ ورته ونیوی او خپل مېلمه یې په درناوي رخصت کړ. د دې هیات یوازینی نتجه دا سوه چي وایسرا امیر ته یو لیک واستاوه او په هغه کي یې ورته ولیکل چي سره له هغه چي وایسرا له روسیې څخه د هیڅ ډول خطراحساس نه کوي خو د برتانیې حکومت به بیا هم وخت په وخت د امیر حکومت تقویه کوي. په نتیجه کي امیر ته د روسیې د هغو اطمینانونو یادونه سوې وه چي افغانستان یې د خپل نفوذ له ساحې څخه بهر بللی وو چي روسیه به هیڅ ډول غرض نه ورسره کوي. وایسرا ورته لیکلي وه چي په داسي حال کي چي د روسیې له خوا دغه ډول یو اطمینان موجود وي نو هغه دا لازمه نه بولي چي پر دې مسلې باندي بحث وکړي چي که روسیه پر افغانستان باندي حمله وکړي برتانیه به څه اقدامات وکړي.

دا د شېرعلي د غوښتني سره چي ده وړاندي کړې وه یوازینی فوق العاده بد سلوک نه وو چي وسو. د هغه ډېره هیله دا وه چي زوی یې عبدالله جان، چي پر ده باندي ډېر ګران وو، له ده څخه وروسته پاچا سي. د هند حکومت په څرګنده د امیر د مشر زوی یعقوب خان طرفداري کوله او دې حقیقت امیر دونه په غوسه کړ چي یعقوب خان یې بندي کړ؛ ځکه چي هغه دا خپل حق باله چي خپل هر زوی چي د ده خوښه وي هغه خپل ولیعهد وټاکي او د مشرتوب حق ته اهمیت ورنه کړي. او کله چي برتانوي هند د ده پر دې عمل باندي اعتراض وکړ نو د ده غوسه یې نوره هم زیاته کړه.

دا نو چنداني عجیبه خبره نه ده چي په دغه وخت کي د روسیې هیات کابل ته ورسېدی او د امیر پر عقیده یې اغېزه وکړه او د برتانیې نیتونو ته یې بدبین کړ. دې نویو دوستانو امیر ته د ټولو هغو شیانو د ورکولو ژمنه وکړه چي برتانیې د هغوی له منلو څخه امتناع کړې وه. ده پر روسانو باندي اعتماد وکړ او فیصله یې وکړه چي د هغوی پر سخاوتمندانه پیشنهادونو باندي به تکیه کوي؛ ځکه چي برتانیې د ده هیڅ غوښتنه نه وه منلې.

په دغه وخت او وضع کي د لارډ نارت بروک د خدمت دوره پوره سوه او پر ځای باندي یې لارډ لیټن Lord Lytton وټاکل سو. د هغه لومړی کار دا وو چي شېرعلي ته یې د دوستی یو پیغام واستاوه او د یوه کنفرانس غوښتنه یې وکړه. امیر له برتانیې سره داسي نور کنفرانسونه هم کړي وه. له برتانیې سره تفاهم ته د رسېدلو وخت نور تېر سوی وو مګر له هغه هیواد سره د خپل بنه نیت، چي نه یې درلود، د ظاهري څرګندولو لپاره یې ومنله چي د برتانیې د کمیشنر سره د ملاقات لپاره یو هیات ورواستوي. د ۱۸۷۷ کال دپاره د یوه کنفرانس ترتیب ونیول سو او د افغانستان سفیر له سر لیویس پیلي Sir Lewis Pelly سره په پېښور کي وکتل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په دې کي چنداني شک نسته چي امير خپل سفير ته هدايت ورکړی وو چي په کنفرانس کي داسي وضعيت وکړی چي دا غونډه بيخي بې نتيجې سي. په حقيقت کي وضع هم داسي وه چي د امبالې کنفرانس خپله سرچپه نتيجه ورکړه. په ۱۸۷۳ کي د برتانيې استازي د امير له پېشنهاد سره موافقه ونه کړه او په ۱۸۷۷ کي د امير استازي د سرليويس پيلي ټولي خبري رد کړې. په پای کي کنفرانس بې نتيجې سو. لارډ ليټن خپله د ښه نيت پاليسي ډېره ناوخته پيل کړې وه او په داسي حال کي چي ده پخپله هيڅ غلطي پکښي ونه کړه داسي، لکه څرنګه چي ښايېدله هغسي ناکامه سوه.

د کلکتې او لندن ترمنځ چي له دې وروسته څه ليکونه تبادله سوي او څه ارتباطات نيول سوي دي هغه د پېښور په تېپه ولاړ حالت څخه وروسته راغلي دي او کلکتې ته له لندن څخه داسي امر راغی چي د امير په مقابل کي هوښيار او بيدار و اوسي؛ تر څو چي امير پخپله خپل دريځ او ګټو ته متوجه سي. دغه پلان تر تقريبا دوو کالو پوري تعقيب سو او هيڅ نتيجه يې ورنه کړه. مګر په داسي حال کي چي د برتانيې حکومت د انتظار حالت غوره کړی وو او امير يې پرې ايښی وو چي ګوندي پخپله يې عقل سرته ورسي، د روسيې استازي بېکاره نه وه ناست او د امير او تزار ترمنځ دوستانه احساسات، په ۱۸۷۸ کال کي، داسي ځای ته رسېدلي وه چي شېرعلي موافقه وکړه چي د روسيې هغه رسمي سفارت ومني چي د روسيې امپراطور ورته لېږلی وو.

د امير له خوا د روسيې د سفارت شانداره استقبال، بېله شکه، له هغي موافقتنامې څخه تېری وو چي په ۱۸۵۴ کال کي له امير دوست محمدسره سوې وه او شېرعلي په ۱۸۷۰ کال کي په امباله کي تاييد کړې وه. د هغې موافقې په اساس اميردوست محمد منلې وه چي د ستري برتانيې د حکومت د دوستانو دوست او د دښمنانو دښمن به وي. مګر د ۱۸۵۴ کال او د امير شېرعلي خان د فعلي حالت شرايطو له مځکي تر اسمانه توپير درلود. امير په حقيقت کي، ځکه د برتانيې دښمنانو ته غېږه پرانيستله چي برتانيې له هغه سره خپل سلوک بدل کړی وو.

کله چي لارډ ليټن خبر سو چي امير په کابل کي د روسيې هيات ته شانداره هرکلی ويلی دی، نو کابل ته يې دغه ته ورته هيات واستاوه او غوښتل يې په دې توګه په کابل کي د ستري برتانيې دريځ او قدرت وښيي. نتيجه داسي سوه چي هغه اوس د تاريخ پېښي دي او هر څه د تاريخ په پاڼو کي ليکلي دي.

که زموږ حکومت د جنګ څخه مخکي شپو ورځو کي له افغانستان سره په اړيکو کي معقول حرکت کړی او شرايط يې سم درک کړي وای نو د افغان او انګليس دوهم جنګ به منځته راغلی نه وای. دا زموږ د فوق العاده تنګ نظرۍ نتيجه وه چي امير يې زموږ سره له ټړون څخه سرغړوني ته مجبور کړ. موږ د امير خپلواکي کنټرولول او کوښښ مو کاوه چي هغه زموږ تابع و اوسي، مګر په مقابل کي مو نه د ده د حکومت بقا تضمينول او نه مو د ده وليعهد په رسميت ورسره پېژندی. او زموږ پاليسي داسي ناکامه سوه لکه چي بايد ناکامه سوې وای او افغانستان، د دوهم ځل لپاره، د برتانيې له خوا اشغال سو.

دا جګړه که څه هم چي ډېره د خواشينۍ وړ ده او بايد چي نه وای پېښه سوې مګر لږترلږه داسي شرايط يې منځته راوړل چي د روسيې او افغانستان مسله پکښي حل سوه او دا په ډېر ګران قېمت تمامه سوه. دې حقيقت ته هم د برتانيې حکومت او هم د برتانوي هند حکومت متوجه سو. لارډ ليټن خپل ځان پکښي وآزمايه. لارډ بيکنزفيلډ Lord Beaconsfield په دې حقيقت پوه سو او د لندن د ګورنر په قصر کي يې په خپله مشهوره وينا کي د داسي علمي سرحد د منځته راړولو ژمنه وکړه چي په هند کي به زموږ امپراطوري وساتي. دا په ټول هيواد کي ومنله سوه چي که د افغان او انګليس دوهم جنګ ګران تمام سو نو د نوي پاليسی د جوړېدلو برکت يې هم ورسره راووړ او اوس به موږ وکولای سو چي په شمال مغربي سرحد کي خپلي دفاعي چاري سمبال کړو.د دې پاليسی د عملي کولو لپاره موږ ډېر کسان درلودل. رابرټس، ستيوارټ، مکګريګور او څه باندي لس تنه نور داسي زورور کسان وه چي هر يوه خپل لياقت درلود او په آسيا کي د يوه نوي مورچل جوړولو ته تيار وه.

د دې جنګ پېښي تاريخ قيد کړي دي. دې جنګ په وقفو د ۱۸۸۰ کال تر مني پوري دوام وکړ؛ تر څو چي په کندهار کي د لارډ رابرټس Lord Roberts په شانداره بري پای ته ورسېدی.

د دې جنګ په جريان کي، په برتانيه کي بيا حکومت تغيير وکړ. د علمي سرحد د پاليسی د طرفدارانو پر ځای داسي کسان قدرت ته ورسېدل چي د هوښياري بېحرکتی پاليسی ته ژمن ول او د عملياتو داوم هغوی ډېر زورول. مګر خبره، تر هغه چي انتظار يې ايستل کېدی، ژر پای ته ورسېده او انګلينډ نه يوازي علمي سرحد په لاس کي درلود، بلکه لا يې تر کنټرول لاندي سيمه پسي پراخه سوې وه او کندهار يې لاسته ورغلی وو.

مګر نوي حکومت نه غوښتل چي، حتی يوه شېبه هم، د هند د دفاع لپاره د دې ستراتيژيک مرکز د کنټرولولو او په لاس کي لرلو په باب فکر وکړي. سره له هغه چي د سرايډوارډ هملي Hamley Sir Edward او کرنل مليسن Malleson Colonel په څېر ماهرانو د کندهار د ساتلو طرفداري کوله مګر حکومت فيصله وکړه چي هغه سرحدي پوځي مرکز خوشي کړي چي په جنګ کي يې نيولی دی. د دې اقدام لپاره يو ډول عجيب دلايل وړاندي سول. حکومت ويل چي د کندهار ساتل به د برتانيې حکومت ته ډېر زيات مسووليتونه او ستونزي راوړي؛ د هند پر عايداتو باندي به يو دروند بار کښېږدي او د يوه پوځي مرکز په حيث، بيخي ضرورت نه ورته احساسيږي. سرهينری نورمن Sir Henry Norman د کندهار له ساتلو سره ځکه مخالفت کاوه چي ويل يې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

له دې سره دا احتمال موجود دی چې موږ به د هرات د ترلاسه کولو لپاره هم تلاش کوو؛ او کندهار له هندوستان څخه دونه لیري پروت دی چې چنداني په دفاع نه ارزي او سرایولین بارینګ Sir Evelyn Baring له هغه سره موافقه درلوده. ښاغلي ګلېډسټون د ۱۸۷۹ کال د نومبر پر اووه ویشتمه پر هند باندي د روسیې د حملې وېره، په یوه تاریخي وینا کې، په یوه جمله کې،رد کړه. ده وویل چې زه پخپله د روسیې د پراختیا غوښتني څخه هیڅ وېره نه لرم. زه فکر کوم چې دغه راز وېره د یوې زړې ښځي وهمونه دي.
دا سوال د ۱۸۸۱ کال د مارچ په میاشت کې په پارلمان کې مطرح سو. د کندهار د ساتلو او کنټرولو سوال د اعیانو په مجلس کې راپورته سو او د ۸۹ رایو په اکثریت منظور سو. اولسي جرګې هغه د ۱۲۰ رایو په اکثریت رد کړ. او په دې توګه کندهار تخلیه سو. څو زموږ دغه اشتباه او غلطي زموږ د نیم نسل لپاره یو عیني درس وي، ځکه چې د کندهار د تخلیه کولو پراخ نتایج لا تر اوسه پوري څرګند نه دي.
کندهار په داسي وخت کې تخلیه سو چې د روسیې جنرال سکوبیلیف Skobeleff پر اخال، تیک او ترکمنانو باندي حملو ته تیاری کاوه. له دې څخه لږ وروسته روسیې اخال او مرو اشغال کړل.
آیا دا د تعجب خبره ده چې د افغانستان متعصبو مذهبي خلکو یوه سلسله پیښي له نورو سره تړلې دي او هغوی په دې عقیده دي چې انګلېنډ ځکه پرشا سو چې د روسانو د پرمختګونو څخه یې واورېدل؟
د عبدالرحمن پاچهي، لږترلږه په ظاهره، ښه په کراري کې روانه ده. هغه د ۱۸۸۱ کال راهیسي پر نسبتا یوموټي افغانستان باندي حکومت کوي او که نور هیڅ نه وي نو په ظاهره یې برتانیې ته خپله وفاداري ښودلې ده. مګر برتانیې له هغه سره په اړیکو کې له هغه سره هغه مرستي هیڅ نه دي منلي چې دی یې ځان مستحق بولي. په نتیجه کې هغه هم پر برتانیه باندي چنداني اعتماد نه لري؛ او کله کله خو خبره د څرګند اختلاف سرحد ته ورسیږي.
په ظاهره، عبدالرحمن په دې کې بیخي پرحقه دی چې له انګلیسیانو سره دوستی وکړي. مګر څرنګه چې پرله پسې وایسرا ګانو د هغه اعمال او حرکات له ډیري نیژدې او په ډېر دقت څارلي دي نو هغه یې پر انګلیسیانو باندي کرار کرار شکمن کړی دی او له خپلو ساتونکو څخه یې فاصله نیولې او پر هغوی باندي بې اعتماده سوی دی. دی په دې نه پوهیږي چې روسان ولي کال په کال د ده هیواد ته ورنیژدې کیږي؛ خو انګلیسیان په خپلو سرحدونو کې دننه پراته دي، دی پرته له دې چې موږ کمزوري وبولي بل فکر نه سي کولای او دا هم نه سي بیانولای چې موږ د افغانستان پر هغو پولو باندي چې په ۱۸۷۲ کې ټاکلي سوي وې، روسانو ته په ۱۸۸۵ او ۸۷ کلونو کې بې سببه او په غیرعادلانه توګه امتیازات ورکړل. دی غواړي په دې پوه سي چې که موږ د روسانو په مقابل کې خپل سرحدات ساتلای سو نو ولي روسانو ته هغه حدود نه ټاکو چې نور به تر هغو نه راتیریږي او نوري خاوري او مځکي به نه لاندي کوي. دی په دې باره کې فکر کوي چې اوس نو باید د روسانو د وعده خلافیو پر ضد چې انګلیسیان یې هر کلی کوي یوه چیغه پورته کړي. دا ډېره ګرانه خبره نه ده چې په دې حالاتو کې د امیر عبدالرحمن په افکارو ځان پوه نه کړای سو. دا چې دی ولي زموږ څخه نفرت لري دا د سیاست یوه ابتدایي شاګرد ته هم معلومه ده. دا چې دی موږ ته درناوی کوي علت یې دا دی چې د خپل قوت په مقابل کې زموږ په زور خبر دی. مګر که ده ته د بل ملګري د پیداکېدلو زمینه وای او بیا به یې هم زموږ سره دوستي کړي وای؛ سړی دا نه سي منلای بلکه زموږ سره یې ځکه لاس یو کړی دی چې بله چاره نه لري. دا چې له انګلیسانو سره پر خپلو وعدو ولاړ دی، یوازینی علت یې دا دی چې تر موږ یې له روسانو څخه زیات بد راځي.
د نیژدې ګاونډیانو په باره کې د عبدالرحمن عقیده معلومه ده. دی له روسانو څخه ځکه په وهم کې دی چې د دې ویري لپاره خپل دلیل لري. ده په تاشکند کې دوولس کاله تېر کړي دي او د روسانو د واکدارۍ د طرز په باره کې بشپړه اطلاع لري. په انګلیسیانو ځکه اعتماد نه سي کولای چې دی هغوی ته هغه سپکاوی چې څو ځله یې د ده هیواد ته کړی دی نه سي بخښلای. له انګریزانو څخه د ده د بد راتللو یو وړوکی دلیل خو د ده هغه رول دی چې د ده په سرحداتو کې یې د برتانیې د عملیاتو په وخت کې لوبولی دی او دا لیده سوي دي چې ده هغو قبایلو ته وسلې ورکړي دي چې زموږ سره جنګېدل.
انګلیسانو چې په افغانستان کې هر څه هلې ځلې کړي دي، او چې هر څونه ښه نیت یې ښکاره کړی دی، چنداني بری یې نه دی په برخه سوی. د انګلیسانو او افغانانو په پنځوس کلنو اړیکو کې دوه ځله لوی جنګونه، او یو څو واړه جنګونه منځته راغلي دي او پالیسیو هم څو ځله تغییر کړی دی. په نتیجه کې موږ داسي ګاونډی لرو چې په موږ اعتماد نه کوي؛ په بې ثباتي مشهور سوي یو، نیژدې سل میلیونه پونده مو لګولي دي؛ چې تر دې مو په لرو پیسو هغه هیواد د تل لپاره اشغالولای سوای. او له دې تولو خبرو سره روسان تر بل هر وخت موږ ته ډېر را نیژدې سوي دي او اوس په داسي موقف کې دي، چې که وغواړي، په څو ساعته کې هرات نیولای سي.
مګر اینګلینډ د خپل قلمرو د ساتلو په پالیسي کې خوشبخته دی. سره له هغه چې د خپلو ماهرانو پر دې خبري او مشورې یې غوږ نه دی نیولی چې ویل یې کندهار باید وساتي مګر د کندهار په څنګ کې یې داسي ډېر ځایونه او خاوري په لاس کې دي چې که وغواړي نو دا مهم مرکز بیرته نیولای سي او خپل سرحدونه یې داسي ټاکلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دي چي ټول ماهران په دې عقيده دي چي د شمال لوېديځ سرحد له لوري څوک حمله نه سي باندي کولای. پر اوسنيو سرحداتو باندي يوازينی انتقاد دا دی چي کافي پراخ نه دي او تر دې هم پراخېدلای سوای.
د افغانستان د دفاع لپاره، د کندهار د اهميت په باره کي ډېر څه نه سي ويل کېدلای. دا ښار هم په عين وخت کي د حملې لپاره بې دفاع او په عين وخت کي يې داسي اسانه ساتنه کېدلای سي چي په هيواد کي نور ښارونه د هغه په خبر نه دي. شاوخوا ته يې دښتونه دي چي دښمن په اسانی پکښي تېرېدلای سي. د کابل په څېر نه دی چي شاوخوا ته يې غرونه او تپې دي او دښمن له ستونزو سره پکښي مخامخ کيږی. کندهار د يوه نسبتا واړه پوځ په وسيله اشغالېدلای او ساتل کېدلای سي. که څوک کابل اشغالوي نو بايد چي د هغه پر شاوخوا باندي د غونډيو د ساتلو لپاره هم پوځ ولري. د کندهار د قلا او دېوالونو د ساتلو لپاره يو وړوکی پوځ کافي دی.
مګر حکومت ته ويل سوي دي چي دا کافي نه ده چي کندهار دي په کنټرول کي وي. حقيقي علمي سرحد، چي زه يې فکر کولای سم هغه بايد ستراتيژيک سرحد وي او ډېرو لويو پوځي قوماندانانو او ستراتيژي جوړونکو ويلي دي چي هغه هيلمند دی. که څه هم چي عمومي عقيده پر دې ده چي که روسان پر افغانستان باندي يرغل کوي نو تر ټولو پر کندهار باندي د حملې کولو احتمال زيات دي... مګر کله چي يو يرغلګر پوځ کندهار ته راورسيږي نو دلته به د هند د پوځ له مقدمي قوي سره مخامخ کيږی او دلته به هغه جنګ کيږي چي هر څه به د مدافعينو په ګټه وي ځکه چي هم د اکمالاتو لاري لري او هم کافي وسلې او مهمات په لاس کي لري.
په لنډه توګه ويلای سو چي يوازي د هرات له لاري پر افغانستان او هند باندي بريالی يرغل کېدلای سي. تر څو پوري چي هرات د دوستو قواوو په لاس کي وي نو پر هند باندي يرغل ممکن نه دی. کله چي هرات د دښمن لاسته ولوېږي نو د کندهار پر لور لاري سمدستي د هغه لاسته ورځي. دا نوی کشف نه دی. د هرات پر ستراتيژيک اهميت باندي ماهرانو او جنرالانو پنځه ويشت کاله مخکي بحثونه کړي دي. هر افسر چي د هرات شاوخوا کتلي ده نو ويلي يې چي هرات د هند دروازه ده. هرات په اسيا کي تر بل هر ښار زيات محاصره سوی دی. دا ښار تر اتيا زرو پوځيانو پوري په قوت محاصره سوی دی او هر وخت يې د پوځ د ضرورت وړ مواد د دغه ښار له شاوخوا څخه برابر کړي دي.
که د هرات اهميت ته وکتل سي نو چنداني يې د دفاعي قوت غم نه دی خوړل سوی. د هرات پر شاوخوا باندي يوه ټينګه خاورينه قلا راګرځېدلې ده چي د ياغي قواوو په مقابل کي ډېر سخت مقاومت کولای سي. خو د روسانو او برتانيي د عصري توپخاني په مقابل کي ښايي څو ساعته مقاومت ونه کړای سي. مګر د قلا دېوالونه او برجونه ډېر ژر ترميمېدلای سي او که د برتانوي هند حکومت د هرات د قلا غم خوړلی نه وای نو روسانو به ډېر پخوا دا ښار نيولی وای. په لنډ ډول ويلای سو چي دا به تر ټولو لويه اشتباه وي که هرات د روسانو لاسته لوېدلو ته پرېښودل سي. کرنل مليسن د هرات د اهميت په باره کي وايي:
« که هرات د روسانو لاسته ولوېږي نو د دې معنی دا ده چي د هغوی لاسته يو داسي خط ولوېدی چي د هغه له لاري پر هند باندي د حملې لاره ورته پرانيستي ده. که برتانيه هرات په لاس کي ولري نو روسيه په هيڅ توګه پر هند باندي د حملې کولو خوب نه سي ليدلای»
خو تر اوسه پوري د برتانيي حکومت هيڅ داسي اقدام نه دی کړی چي د روسيي له خوا دي د هرات د اشغال مخه ونيسي. په وروستيو کلونو کي په افغانستان کي زموږ د سرحدي قواوو په برخه کي ډېر زيات تغييرات راغلي دي مګر موږ يوازي خپل دفاعي مرکزونه تقويه کړي دي او په سرحد کي مو د اورګاډي خطونه تېر کړي دي. د برتانيي د مرکزونو په مقابل کي هرات پر هغه ځای ولاړ دی چي پخوا ولاړ وو مګر د هغه ښارخواته د روسانو په نيژدې کېدلو کي ډېر زيات تغيير راغلی دی؛ او اوس روسان د هغه ښار د قلا په شپيته ميلي کي پراته دي. سرچارلس ميکګريګور Sir Charles MacGregor چي په ۱۸۸۳ کي په هند کي يو لوی جنرال وو، وويل:
« زما سره دوه تيار مضمونونه پراته دي. يو ښيي چي موږ به څونه ژر هرات ته لس زره عسکر واستوو او بل ښيي چي روسيه به په همدغه اندازه قوه هغه ښار ته واستوي. موږ اوس سره مساوي يو او دوی ته ماته ورکولای سو مګر هره ورځ چي تيرېږي وضع زموږ په تاوان ده »
دا هغه وخت وو چي روسان په تاشکند او سمرقند کي پراته ول او په عشق آباد کي يې پوځي اډه درلوده. په هغه وخت کي قزل اروات ته نيژدې اورګاډی نه وه او د روسانو دفاعي پوځي مرکز دري سوه ميله ليري پروت وو. نن ورځ د روسانو د اورګاډي خط د هرات شپيته ميلې ته رسېدلی دی او په شپږدېرش ساعته کي د هرات قلا نيولای سي.
سرهنري راولنس Sir Henry Rawlinson چي خپل ټول ژوند يې د مرکزي اسيا د مسلې په باب تحقيقاتو ته ورکړی وو د خپل مشهور کتاب ( اينګليند او روسيه په شرق کي) په پای کي ليکي:
« تر څو پوري چي روسيه له مرو څخه ليري وي موږ بايد له هرات څخه ليري واوسو. مګر که هغه په لوی لاس مخته راځي نو بايد وړ وفهمول سي چي مخه يې نيوله کيږي. موږ بايد دوی ته، لکه په هند کي زموږ د ګټو ساتونکي چي اجازه ورکوي، اجازه ورنه کړو چي يا د ترکمنانو د ځپلو په پلمه او يا په اسيا کي د تجارتي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

لارو د پرانیستلو په پلمه ځانونه مرغاب ته ورسوي او داسي ځای اشغال کړي چي پر هرات باندي د یرغل کولو مخه به یې نه سي نیوله کېدلای. هغه ښار په ستراتیژیک او سیاسي لحاظ د هند په مخ کي داسي سنګر دی چي له اهمیت څخه یې هیڅوک انکار نه سي کولای او موږ نه اجازه ورکولای سو او نه باید اجازه ورکړو چي د هغه مهم ښار سرنوشت د کوم خارجي قدرت لاسته ولوېږي »
دغه نظر، که څه هم چي د وامبرۍ، تیمپل، ملیسن، مارووین او ښکر په څېر ماهرانو له نظریاتو سره یوشان دی، مګر مقاماتو توجه نه ده ورته کړې. روسیي ته د مرو د اشغالولو اجازه ورکړه سوه او برتانیي یوازي یو نرم اعتراض ورباندي وکړ. او له هغه راهیسي روسیه کال په کال هغه ځای ته ورنږدې کېږي چي له کلونو راهیسي یې د نیولو آرزو لري او د هغه قدرت له خوا چي روسیه یې تهدیدوي یوازي یو څو اعتراضونه ورباندي وسي.
زموږ د حکومت اوسنی پالیسي یوازي د سرحد د ساتلو خواته متوجه ده او د هرات مسله یې ښیخي هېره کړې ده. دا هوښیاره پالیسي نه ده. کله چي د روسیي پر تاکتیکونو باندي له اعتراض کولو څخه ډډه کوو نو ګواکي موږ په لوی لاس د هغوی متي غښتلي کوو او له ځان څخه د خپل راتلونکي شکایت حق اخلو. کله چي موږ د چا له خوا د هرات د اشغال په مسله کي خپل نیت څرګند نه کړو نو موږ په لوی لاس داسي جنګ ته ور روانیږو چي ښايي مخه یې ونیولای سو.
د هند په برخه کي لاره روښانه ده. هغه سرحد ته چي موږ په کراره کراره رسېدلي یو او زموږ د زیات تفکر نتیجه ده هغه زموږ اړتیاوي را پوره کوي. د هغو سرحداتو په مابین کي موږ په داسي حالت کي یو چي پخپله یې ساتنه کولای سو؛ په هغه برخه کي کوم بشري سوال نسته. که چیري موږ وغواړو چي له هغو سرحدونو څخه راووزو او هرات ونیسو نو بیا یې کولای سو. د دغه راز تفاهم په مقابل کي یوازي یو جدي اعتراض موجود دی. که هرات اشغالوو نود دي معنی به دا وي چي موږ له کوټي څخه خپلي قواوي د ۵۸۳ میله په فاصله روانوو او د ډېرو لویو ټرانسپورټي ستونزو سره به مخامخ کېږو او ډېر زیات مالي لګښتونه به کوو. دا خو لا پرېږده چي موږ به له خپل داسي مرکز څخه وزو چي د اورګاډي خط ورته راغلی دی او په هند کي له نورو پوځي مرکزونو سره په دایمي تماس کي دی او داسي یوه مرکز ته به ځو چي په دفاعي قوت یې چنداني باور نسته او د دښمن څخه به، د اورګاډي په سرعت، یوازي دوه منزله فاصله لري.
مګر دلته لا یو د عزت او حیثیت سوال هم مطرح دی. موږ به د افغانستان د واکمن په مقابل کي خپل اعتبار او حیثیت څرنګه ساتو؟ د افغانستان د خلکو په مقابل کي زموږ وظیفه څشي ده؟ آیا موږ ژمنه کړې ده چي د افغانستان د خاوري تمامیت به ساتو او د حاکمي کورنی د پاچهی ملاتړ به کوو؟
زه ګومان کوم دي سوالونو ته له مثبت جواب ورکولو څخه یوازي هغه وخت مخ اړولای سو چي د روسانو د ډیپلوماسی لاره غوره کړو. د افغانستان له امیر سره موږ په ۱۸۸۰ کال کي په مجمله توګه ژمني وکړې. دغه ژمني په ۱۸۸۵ کال کي په راولپنډي کي په هغه کنفرانس کي چي لارډ ډوفرین Lord Dufferin برخه پکښي درلوده تکرار سوې او بیا په ۱۸۹۳ کي د ډیورنډ په تړون کي تجدید سوې. اوس نو که موږ پر خپلو وعدو نه درېږو نو موږ به له افغانانو څخه د خپل سردښمنان جوړوو. موږ د هغو تړونونو په اساس وظیفه لرو چي روسان د هرات، بلخ او د افغانستان د هري بلي برخي د اشغالولو څخه منع کړو چي د ۱۸۸۵ او ۱۸۸۷ په قراردادونو کي یې یادونه سوې ده؛ په دې شرط چي امیر، په خپله خارجي پالیسي کي زموږ سره سلا مشوره وکړي. دا یوه جدي وظیفه ده چي موږ یې باید په هر وخت کي عملي کړو.
سکوبیلیف، چي د ده بصیرت او دوراندیشي ډېره مشهوره ده او په لیاقت کي یې هیڅ شک نه وو، نظر ورکړی وو چي روسان لږترلږه د یوه نسل لپاره پر هند باندي د هرات له لاري تېری نه سي کولای. مګر دا خبره یې زیاته کړې وه چي دا زموږ اورګاډی، په هند کي، د انګلینډ دریځ تهدیدوي او هغه هیواد له دې څخه راګرځوی چي د نړۍ په نورو برخو کي زموږ مخه ونیسي. زموږ لپاره د روسانو د دې اورګاډي تهدید ریښتینی دی او د سکوبیلیف تر انتظار یې زیات کار کړی دی. هرات که څه هم چي تر اوسه پوري د روسانو لاسته لوېدلی نه دی د روسانو د تهدید په سیوري کي شپې سبا کوي او اوس نو صرف د اقدام او عمل وخت ته انتظار باسي. د روسانو په اټکل، د اینګلینډ ستونزي د هغه هیواد لپاره یو فرصت دی او هر کله چي موږ په اروپا کي په یوه جګړه لګیا سو او یا له کوم لوري له تهدید او خطر سره مخامخ سو چي زموږ توان او طاقت هغې خواته متوجه سي او قدرت مو په دې سیمه کی محدود سي نو دا هغه وخت دی چي روسانو پر هرات باندي د مارش او حرکت لپاره ټاکلی دی.
په اوسني وخت کي د تزار نوکران په ډېر شوق د عبدالرحمن خان مرګ ته منتظر دي. امیر که څه هم چي د ډېر عمر نه دی او په ۱۸۵۴ کال کي زېږېدلی دی خو له یوه رنځه څخه کړېږي چي ښایی تر څو میاشتو زیات ژوندی پاته نه سي. په افغانستان کي هر وخت پاچا ګردشي له جنګونو سره ملګرې وي او د عبدالرحمن پر ځای باندي د کښېنستلو او پاچهی نیولو لپاره کاندیدان ډېر زیات دي. نو ځکه داسي احتمال سته چي افغانستان به تر ډېره وخته پوري د دښمنو قوتونو ترمنځ په جګړه کي وي او په داسي شرایطو کي نو په دې کي هیڅ شک نسته چي روسان به د نظم او امنیت د ساتلو په پلمه هرات اشغال کړي او لا ښایی کابل ته د رسېدلو کوښش هم وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا چي اینګلینډ به څه جواب ورکوي هغه نو زياتره په دې پوري اړه لري چی څوک قدرت ته رسيږي. دا به اوس تر وخت دمخه وي چي د داسی احتمالاتو په باب خبري وکړو چي لا يې د پېښېدلو وخت نه دی راغلی. مګر دا پېش بيني ډېر زيات کمال ته ضرورت نه لري چي که داسي پېښه سي نو دا نه يوازي د اينګلينډ ارامي بلکه د هند د امپراطورى راتلونکې تهديدوي.

Russia in Asia
A Record and a Study 1558-1899
Alexis Krausse
London: Grant Richards 1899
New York :Henry Holt Co .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ